د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم (ډي ټي اِم) | افغـــــــانستان


# د خلکو د تګ راتګ په اړه لـــــنډ اوونیز راپور

د ۲۰۲۴ د فبروري ۴ څخه تر ۱۰ فبروري، ارقام د شپې تر ۹:۰۰ پورې

## عمومی معلومات

د وروستیو خوځښتونو په ځواب کې، آی اُو اِم افغانستان د ۲۰۲۴ په پیل کې د ډي ټي اِم پروګرام د خلکو د تګ راتګ د جریان څارنې فعالیت بیا پیل کړل ترڅو د افغانستان په سرحدونو کې د خوځښت او تګ راتګ په اړه ښه پوه شي. د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په ۱۰ نېټې، ډي ټي اِم د ایران اسلامی جمهوریت او پاکستان سره په څلورو سرحدی پولو کې ساحوي ټیمونه ځای پر ځای کړل (لاندې نقشه وګورئ)، ترڅو دوه یو له بل سره تړلي یا اړوند فعالیتونه ترسره کړي. لومړی د ټولو هغو کسانو شمیرل دي چې افغانستان ته راځي او یا د افغانستان څخه بهر وځي، چې د جریان د څارنې د شمیر په نوم هم بلل کیږي، ترڅو افغانستان ته د راتګ او تګ شمیر معلوم کړي. دوهم د نمونې په ډول د ځینو کساو یا ډلو سروې ده چې افغانستان ته د راتللو یا وتلو په حال کې ترسره کیږي، چې د جریان د څارنې سروې په نوم هم یادیږي، ترڅو د تلونکو او راتلونکو خلکو د ځانګړتیاوو، هڅو او زیانمنتیا په اړه پوه شي. دا مختصر راپور مهم معلومات وړاندې کوي چې د آی اُو اِم د معلوماتو د مختلفو سرچینو د یوځای کولو څخه لاسته راځي، لکه د آی اُو اِم افغانستان د (د جریان د څارنې د شمېر) او (د جریان د څارنې سروې) فعالیتونه او د افغانستان آی اُو اِم د رارسېدو څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سی بی پا ها) او همدارنګه د پاکستان ډي ټي ام د ( د افغان راستنیدونکو په اړه د جریان د څارنې سروې) څخه د فبروري له ۴ څخه تر ۱۰ فبروري مودې لپاره. د معلوماتو د راټولو د میتودولوژي په اړه د ډیرو معلوماتو لپاره ددې را پور آخرې پاڼې ته د (آی اُو اِم معلومات د راتګ په اړه) عنوان ته مراجعه وکړئ.

د مرزي نقاطو پر اساس د تګ راتګ په اړه معلوماتي نقشه




## افغانستان ته راتګ 50,388

افغانستان ته د راتللو په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس*


| | ایـــران | پاکستان |
|---|---|---|
| افغانستان ته راتګ | 35,329 | 15,059 |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد لري | نـــشته | 168** |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد نلري | 24,509*** | 952*** |
| هغه راستنیدونکي چې آی اُو اِم ورسره مرسته کړې | 5,716*** | 886*** |

## د افغانستان څخه تګ 29,580


د افغانستان څخه د تللو په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس*****

| | ایـــران | پاکستان |
|---|---|---|
| د افغانستان څخه تګ | 14,567 | 15,013 |

د افغانستان او جمهوري اسلامي ایـــران ترمنځ د مجموعي تګ راتګ په اړه معلوماتي چارټ (جنوري ۱۰ څخه تر ۱۰ فبروري)




د افـــــــــــــغانستان او پاکـــستان ترمنځ د مجموعي تګ راتګ په اړه معلوماتي چارټ (جنوري ۱۰ څخه تر ۱۰ فبروري)




**وضاحـــــــــــت:** دا نقشه فقط د وضاحت لپاره کارول شوې ده او هیڅ کله د آی اُو اِم لخوا د کومې رسمي ادعا یا موافقت په معنی نده

* د معلوماتو د راټولو د میتودولوژي په اړه د ډیرو معلوماتو لپاره ددې را پور آخرې پاڼې ته د (آی اُو اِم معلومات د راتګ په اړه) عنوان ته مراجعه وکړئ

** اسناد لرونکي راستانه شوی د (پی اُو آر) کارت لرونکي دي د معلوماتو منبع: د پاکستان ډي ټي اِم او د پاکستان د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو اداره یا (یو اِن اِچ سي آر)

*** معلومات د افغانستان آی اُو اِم د راتګ څخه وروسته د بشري مرستو د پروګرام (سی بی پا ها) لخوا ترسره شوی دا برنامه د هغه کسانو سره مرسته کوي چی افغانستان ته راستانه شوي وي او دا برنامه د سرحدي او مرزي کاري ګروپ په واسطه حمایه کیږی. د سرحدونو کاري ګروپ د آی اُو اِم لخوا رهبري کیږي د لا ډیرو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ
https://afghanistan.iom.int/situation-reports.

**** د معلومات راټولول د فعالیت د تعلیق له وجه ندي ترسره شوي، او د هغه راستنیدونکي چې اسناد نلري په اړه معلومات راټولول د افغانستان آی اُو اِم د راتګ څخه وروسته د بشري مرستو د پروګرام (سی بی پا ها) لخوا ترسره شوي

***** ډي ټي اِم افغانستان د مختلفو ډلو په اړه چې دې وتو په حال کې دي معلومات نه راټولوي

# افغانستان ته راتګ

| افغانستان ته راستانه شوي (سروې شوي) خلک: ۳۱۶۳ | افغانـــــــستان ته راســــــتانه شــوي خلک: ۵۰۳۸۸ |
|---|---|

لاندې تحلیل او ارقام دي ۳۱۶۳ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۲۰۰۲ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۱۱۶۱ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه شوي او د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ له ۴ څخه تر ۱۰ فبرورۍ پورې افغانستان ته راغلي. په لاندې معلوماتو کې یوازې هغه افغان وګړي شامل دي چې د تګ راتګ د څارنې او ارزونې د یوې برخې په توګه ورسره مرکه شوې.
افغانستان ته د دریم هیواد ته د ټرانزیټ په نیت راتلل ډېر غیر معمول وو، د نږدې ټولو هغو ځواب ویونکو هدف چې د جمهوري اسلامي ایران یا پاکستان څخه راځي افغانستان وو. جمهوري اسلامي ایران او پاکستان ته ډېرې سفرونه له یو کال څخه لږ دوام کوي. پداسې حال کې چې له جمهوري اسلامي ایران څخه راتګ په عمده توګه ډیپورټ شویو او اقتصادي دلایل دي، له پاکستان څخه په راتګ کې هغه کسان شامل وو چې د داوطلبانه راستنیدو سربېره د کورنۍ د لیدو وروسته بیرته راستانه شوي. نارینه ځواب ویونکي چې له جمهوري اسلامي ایران څخه راځي ډېرې یې نسبت ښځینه ځواب ویونکو ته اقتصادي دلایل ته اشاره کړې په ترتیب (۶۸٪ نارینه او ۳۹٪ ښځینه)، پداسې حال کې چې د پاکستان څخه د راستنیدونکو ښځینه ځواب ویونکې ډېرې په هغه ځای چې اوسیدل نا امنۍ ته اشاره کړې (۲۲٪) او یوازې (۶٪) نارینه ځواب ویونکي په هغه ځای کې نا امنۍ د راتګ دلیل بولي.

## ځانـــــــګړتیاوې

### د راستانه شویو افرادو په اړه معلومات

عـــمر

| ښځینه | عمر | نارینه |
|---|---|---|
| 1% | 60+ | 2% |
| 14% | 18-59 | 75% |
| 3% | 6-17 | 4% |
| 1% | 0-5 | 1% |

### اسناد او مدارک

| | |
|---|---|
| 67% | د هغه کسانو فیصدي چې د هغه هیواد معتبره ویزه یې نه درلوده د کوم ځای څخه چې راستانه شوي |
| 67% | د هغه کسانو فیصدي چې د سرحد څخه د تیریدو لپاره یې معتبره پاسپورت نه درلود |
| 37% | د هغه کسانو فیصدي چې معتبره تذکره نلري |

### د زیانمنو ډلو شتون

| | |
|---|---|
| هغه کورنۍ چې ماشومان یې سرپرستي کوي | <1% |
| هغه کورنۍ چې ښځې یې سرپرستي کوي | 4% |
| مزمن ناروغۍ او خاص ارتیاوو لرونکی کسان | <1% |
| حامله او شیدي ورکونکې ښځې | |
| مجردې او تنها ښځې | 1% |
| بی سرپرسته ماشومان | 0% |

## هېواد ته د راتګ دلایل او قصد

### هغه ځواب ویونکي چې د جمهوري اسلامي ایران څخه راستانه شوي

**هغه موده چې په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه کم | 31% |
| د متوسطې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 26% |
| د اوږدې مودې لپاره < د یو کال څخه زیاد | 43% |

**د جمهوري اسلامي ایران څخه افغانستان ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| رد مرز یا ډیپورټ | 73% |
| اقتصادي دلایل | 69% |
| داوطلبانه راتګ | 31% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه کم | 1% |
| د متوسطې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 0% |
| د اوږدې مودې لپاره < د یو کال څخه زیاد | 0% |
| د دې ځای د پرېښودو پلان نلرم | <1% |
| نه پوهیږم | 99% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | <1% |

### هغه ځواب ویونکي چې د پاکستان څخه راستان شوي

**هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه کم | 72% |
| د متوسطې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 7% |
| د اوږدې مودې لپاره < د یو کال څخه زیاد | 21% |

**د پاکستان څخه افغانستان ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| داوطلبانه راتګ | 93% |
| د کورنۍ لیدنه | 30% |
| په هغه ځای کې نا امني | 15% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه کم | 17% |
| د متوسطې مودې لپاره < د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 1% |
| د اوږدې مودې لپاره < د یو کال څخه زیاد | 1% |
| د دې ځای د پرېښودو پلان نلرم | 8% |
| نه پوهیږم | 73% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مل مشرانو سره مرکه شوې
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دی اساس ممکن فیصدي د ۱۰۰ څخه زیاته شي

# افغانستان ته راتګ

هغه هېوادونه چې خلک ترینه راغلي

هغه ولایات چې خلک ورغلي



# د افغانستان څخه تګ

| د افغانستان څخه تللي سروې شوي خلک: ۱۳۵۷ | د افغانستان څخه تللي خلک: ۲۹۵۸۰ |
|---|---|

لاندې تحلیل او ارقام دي ۱۳۵۷ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۴۸۲ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۸۷۵ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه ورسره شوې او د ۲۰۲۴ کال د فبروري له ۴ څخه تر ۱۰ فبروري مودې په جریان کې د افغانستان څخه بهر تللي. لاندې معلومات یوازې د هغو افغان وګړو په اړه دي چې د تګ راتګ د څارنې او ارزونې د سروې د یوې برخې په توګه ورسره مرکې شوې دي.
د پاسپورټ، ویزې او د سفر اسنادو درلودل د هغو کسانو په منځ کې نسبتا عام وو چې د افغانستان څخه بهر ځي. دا په داسې حال کې ده چې ډېری هغه کسان چې افغانستان ته راتلل د سفر اسناد یې نه درلودل. د هغو خلکو له جملې څخه چې د هېواد څخه بهر ځي اکثریت داسې خلک دي چې دا یې لومړی ځل دی چې د افغانستان څخه بهر ځي جمهوري اسلامي ایران ته دی تلونکو ځواب ویونکو لویه برخه هغه کسان وو چې د یو کال او یو کال څخه د کم وخت لپاره په جمهوري اسلامي ایران کې دې پاتې کیدو اراده لري. همدارنګه پاکستان ته دی تلونکو ځواب ویونکو لویه برخه هغه کسان وو چې په پاکستان کې د لنډ وخت لپاره د پاتې کیدو اراده لری (د دریو میاشتو څخه کم) په لاندې موارد به د تلونکو خلکو د سفر دلایلو ته اشاره شوې، د خپلوانو لیدنه دې پاکستان او جمهوري اسلامي ایران ته تلونکو خلکو په ځوابونو کې عام وو، روغتیایی خدمتونو ته لاسرسی چې معمولا د لږ وخت لپاره وي پاکستان ته د تلونکو خلکو د ځوابونو لویه برخه ده، د هغه ځواب ویونکو په منځ کې چې له افغانستان څخه جمهوري اسلامي ایران ته ځي د سفر دلیلونه چې ډېری د اقتصادي هڅو سره تړاو لري، په ډېر احتمال کاري فرستونو ته اشاره شوې.

## ځانـــــــګړتیاوې

### د تلونکو افرادو په اړه معلومات

عـــمر

| ښځې | عمر | نارینه |
|---|---|---|
| <1% | 60+ | 2% |
| 14% | 18-59 | 77% |
| 3% | 6-17 | 2% |
| 1% | 0-5 | 1% |

### اسناد او مدارک

| | |
|---|---|
| 3% | د هغه کسانو فیصدي چې د هغه هیواد معتبره ویزه یې نه درلوده د کوم ځای څخه چې راستانه شوي** |
| 3% | د هغه کسانو فیصدي چې د سرحد څخه د تیریدو لپاره یې معتبره پاسپورت نه درلود** |
| 6% | د هغه کسانو فیصدي چې معتبره تذکره نلري |

## د هېواد څخه د تګ دلایل او قصد

### هغه ځواب ویونکي چې جمهوري اسلامي ایران ته ځي

**هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 5% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 5% |
| د اوږدی مودی لپاره > د یو کال څخه زیاد | 3% |
| هیڅ کله د افغانستان څخه بهر ته نه یم تللی | 87% |

**د افغانستان څخه جمهوري اسلامي ایران ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)*****

| | |
|---|---|
| اقتصادي دلایل | 47% |
| د کورنۍ لیدنه | 42% |
| صحی خدماتو ته لاسرسی | 10% |

**د څومره وخت لپاره به په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 61% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 37% |
| د اوږدی مودی لپاره > د یو کال څخه زیاد | 0% |
| د هغه هېواد د پرېښودو پلان نلرم | 0% |
| نه پوهیږم | 2% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

### هغه ځواب ویونکي چې پاکستان ته ځي

**هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 16% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 4% |
| د اوږدی مودی لپاره > د یو کال څخه زیاد | 6% |
| هیڅ کله د افغانستان څخه بهر ته نه یم تللی | 73% |

**د څخه افغانستان پاکستان ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)*****

| | |
|---|---|
| صحی خدماتو ته لاسرسی | 53% |
| د کورنۍ لیدنه | 51% |
| مراسم (ټولنیز/مذهبی)/سیاحت | 12% |

**د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي**


| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 89% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 1% |
| د اوږدی مودی لپاره > د یو کال څخه زیاد | 2% |
| د هغه هېواد د پرېښودو پلان نلرم | 0% |
| نه پوهیږم | 8% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوي په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوي
** دا ارقام د مصاحبه شویو کسانو د ځوابونو پر اساس دي او د اثبات لپاره یې کوم څه نشته
*** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دی اساس ممکن فیصدي د ۱۰۰ څخه زیاته شې

## د افغانستان څخه تګ

هغه هېوادونه چې خلک ورځي

هغه ولایات چې خلک ترینه ځي



## افغانستان ته د راتګ په اړه د آی اُو اِم معلومات

ډي ټي اِم افغانستان، ډي ټي اِم پاکستان، او د آی اُو اِم افغانستان له راتګ څخه وروسته بشری مرستو پروګرام (سِی بِی پا ها) مختلف میتودونه کاروي ترڅو افغانستان ته د راتلونکو کسانو مختلف ډیموګرافیک معلومات راټول کړي. لاندې د جریان چارټ د راستانه شویو خلکو د فرعی ډلو تر منځ اړیکې روښانه کوي او دا چې څنګه آی اُو اِم خپل مختلف فعالیتونه او میتودولوژي کاروي ترڅو افغانستان ته د راتګ په اړه دقیق او جامع معلومات ترلاسه کړي.

**1 — ټول هغه خلک چې افغانستان ته راغلي**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم افغانستان د هر فرد تګ راتګ، پرته د تابعیت، اسنادو وضعیت، یا په افغانستان کې د پاتې کیدو پلان په پام کې نیولو سره، چې د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي پولو څخه افغانستان ته راځي شمیري. دا فعالیت د جریان د نظارت په نوم هم پیژندل کیږی. ډي ټي اِم افغانستان خپل پر جریان څارنې سروې فعالیت په کارولو سره د شمیرل شویو کسانو څخه ځینی په نمونی ډول سروې کوي.

**2 — افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک**
دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم پاکستان د هغو افغان وګړو شمیر راټولوي چې د سپین بولدک او تورخم له لارې افغانستان ته راستنیږی. بیرته راستانه شوي کسان د هغو افغانانو په توګه طبقه بندي شوي چې اراده لري بیرته راستانه شي او د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې ژوند وکړي، د هغو کسانو په پرتله چې یوازې د سوداګرۍ لپاره سفر کوي یا په موقت ډول افغانستان ته سفر کوي. د جمهوري اسلامي ایران سره په سرحد کې ورته فعالیت نشته.

**3 — افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک لري**
دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

**4 — افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک نلري**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

د اسنادو لرونکو راستنیدونکي شمیر د پاکستان ډي ټي اِم د معلوماتو څخه ترلاسه شوي. د بې اسناده راستنیدونکو شمیر افغانستان ته له راتګ څخه وروسته بشري مرستو برنامه (سی بی پا ها) له معلوماتو څخه ترلاسه شوي.

**5 — هغه خلک چې د آی اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوي**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سی بی پا ها) د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي نقطو ته نږدې د استوګنې په مرکزونو کې له بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته کوي.


## د هغه افغانانو په اړه معلومات چې ورسره مرسته شوي

د آی اُو اِم افغانستان د افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو پروګرام (سی بی پا ها) د هغو افغان کډوالو په اړه معلومات راټولوي چې سرحد ته نږدې د استوګنی د مرکزونو څخه تیریږی او د آی اُو اِم او سرحدي کاری شریکانو څخه مرسته ترلاسه کوي. د سرحد کاري ګروپ د آی اُو اِم لخوا رهبري کیږی. د نورو معلوماتو او د سرحدي کاري ګروپ په اړه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره، د لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ.
https://afghanistan.iom.int/situation-reports.


### د هغه کسانو مجموعی شمیر چې افغانستان ته له راتګ څخه ورسته د آی اُو اِم لخوا ورسره مرسته (جنوري ۱۰ څخه تر ۱۰ فبروري)

د پاکستان څخه بیرته راستانه شوي

سپین بولدک




تـــــورخم



د جمهوري اسلامي ایران څخه بیرته راستانه شوي

اسلام قلـــــعه



میلـــــــــــک

